<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

## د ازاد کشمیر مسلمانانو ته خبرداری ورکړل شوی، چې د کنټرول له کرښې وا نه وړي!

## د باجوه ـ عمران رژیم د مسلمانانو دیني احساساتو ته سپکاوی کوي

د باجوه ـ عمران رژیم د ټرمپ، پمپیو او الیس ویلز د خوشاله کېدو لپاره هر حد مات کړ. عمران خان د الله سبحانه وتعالی او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له اوامرو سرغړونه کوي او د مسلمانانو دیني احساسات له پامه غورځوي. د ۲۰۱۹م کال د اکټوبر پر ۵مه یې ټویټ وکړ: «زه په AJK کې د کشمیریانو پر کړاوونو خبر یم، چې په IOJK کې له دوو څخه د ډېرو میاشتو راهیسې په ناوړه حالت کې له زړه سوي پرته د خپلو کشمیري ملګرو په لټه کې دي. هغه څوک چې له LoC څخه AJK ته د کشمیر د مبارزې د ملاتړ او بشري مرستې لپاره اوړي، ښایي د هندي داستان لاسونو ته ولوېږي».

د باجوه ـ عمران رژیم د امریکا په امر د هندي یرغل او «لوی هند» (اکهاند بهارات) پروژې پر وړاندې د کشمیري مقاومت د ماتولو هڅه کوي. دغه رژیم زموږ د وسله والو ځواکونو خورا پیاوړي زمریان په قفس کې اچولي. کله چې عادي مسلمانان په مستعمره کشمیر کې د خپلو ورونو او خویندو د سیاسي او وسلوال ملاتړ لپاره غږ پورته کړي، رژیم په ډېرې سپین سترګۍ سره د «هندي داستان» نوم ورکوي او د مومنو مسلمانانو پر وړاندې خنډ ګرځي. عمران خان له یاده ایستلي، چې څو اونۍ وړاندې یې له مسلمانانو غوښتي وو، چې د کنټرول کرښې ته لاړ نه شي. همدارنګه د سپټمبر په ۲۷مه یې په ملګرو ملتونو کې له وینا ښکاري، چې دا به د هند په تابوت وروستی مېخ وي. له هغه وخت راهیسې لس ورځې تېرېږي، چې عمران خان وینا کړې او د طاغوت مشرانو ته یې لاسونه ور وغځول؛ خو د هند زور زیاتی کم نشو، بلکې لا ډېر شو. د باجوه ـ عمران رژیم د امریکا او هند اجنډا ځاري او د همدې لپاره د مسلمانانو په دیني احساساتو ملنډې وهي او د دوی دیني احساسات یوه هندي اجنډا بولي.

دغه رژیم یو کوچنی اقلیت دی او په بهرنیو مرستو پورې د ځان تړلو سره د زړورو مسلمانانو او د پاکستان د وسله والو ځواکونو استازیتوب نه کوي، بلکې دغه رژیم د «لوی هند» د پلان د پلي کولو لپاره د ټرمپ د ساتونکي په توگه عمل کوي. له دغو واکمنانو څخه داسې هیله درلودل چې دوی به د کشمیر د ازادۍ لپاره جهاد اعلان کړي، یوازې د وخت ضایع کول دي. که چېرې دوی ته اجازه ورکړل شي، دوی به حتا د کشمیر موضوع دفن کړي.

**اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** تاسو زمریان یاست او تاسو به د دښمن پر مخ په لومړۍ څپېړې سره په خپل زور پوه شئ. تاسو دا مزه هغه وخت وڅکله، کله چې تاسو په بالاکوټ کې د هندي برید ځواب ورکړ. بې زړه هندي ځواک ستاسو پر وړاندې نشي دریدلی. یوازې د نبوت پر تگلاره خلافت تاسو ته دغه فرصت درکولی شي، ترڅو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم زیری په ربښتیا بدل کړی، یعنې د هند غزوه. هغه غزوه چې ابو هریرّة رضی الله تعالی عنه به تل د هغې په نظامي برخه کې د گډون غوښتنه کوله. وروسته به په سرینگر، الاقصی او قرطبه کې د تکبیر نارې پورته شي. تاسو به د غوره شهېدانو او هغو کسانو په منځ کې وی، چې بریا او فتحه یې ترلاسه کړې وي. د دغه امتیاز د لاسته راوړلو لپاره حزب التحریر پر تاسو غږ کوي، نو ستاسو له منځه به څوک دغه غږ ته ځواب ووایي؟

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾**

[انفال: ۲۴]

***ژباړه:*** *اې ایمان راوړونکو! د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغې بلنې ته لبیک ووایئ، چې د هغه څه لوري ته مو رابولي چې تاسو ته ژوند در بښي.*

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: ۸/۱۴۴۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د صفر ٦مه**

**۲۰۱۹م کال، د اکتوبر ۱۱مه**

**د فیسبوک لپاره:** د باجوه ـ عمران رژیم د امریکا په امر د هندي یرغل او لوی هند پر وړاندې د کشمیري مقاومت د ماتولو هڅه کوي.